**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په ډیموکراتیکو ارزښتونو کې عمرخوړلي خلک د زړو وسایلو په څېر دي، چې له ګټې اخیستو وروسته یې اشغالو ته اچوي

**خبر**

بي بي سي د ۲۰۲۰م کال د جنوري په ۲۲مه د نړۍ د سپینږیرو په اړه راپور برابر کړی و، چې په بېلابېلو هېوادونو کې سپینږیري له ډول ډول ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. د جنوبي امریکا په پیروګوای ایالت کې سپینږیري په قصدي ډول وژل کېږي او په نړۍ کې دې ته ورته نورې سیمې هم لیدل شوې دي. په یاده سیمه کې په هره قوم کې یو کس د سپینږیرو د وژلو لپاره ټاکل کېږي. د دغې سیمې خلکو هغه مهال په دې اړه پرېکړه وکړه، چې پوه شول نور له زړو خلکو څخه ګټه نه اخیستل کېږي او یوازې د ټولنې د اوږو بار ګرځېدلي. د اېک په ایالت کې زړې ښځې د تبر په واسطه ټوټه ټوټه او وژل کېږي او زاړه سړي له کوره داسې ځایونو ته ایستل کېږي، چې د تل لپاره بیا کور ته را ونه ګرځي.

**تبصره**

د زړو او ناتوانه خلکو پر وړاندې دغه ناانساني کړنې یوازې یوه پېښه نه ده، چې وواېي دا به له تمدن څخه د وروسته پاتې قوم کار وي؛ بلکې په غرب کې دا یوه عادي خبره ده چې سپینږیري د مرګ لپاره ځانګړو مرکزونو ته وړل کېږي. په ځینو ډېموکراتیکو هېوادونو کې د سپینږیرو وژل حتا قانوني بڼه لري. دغه وحشتناکې پېښې د دوی لپاره ټکان ورکوونکې نه دي، ځکه دوی باور لري چې په یاد کار سره د ټولنې د نورو خلکو د ژوند حقونه خوندي کوي. دا یوه کپیټلیستي نظریه ده چې وایي، سپینږیري نور کار نه ورکوي او د ټولنې د اوږو بار ګرځي. ایا کله مو چې موټر زوړ شي، نو هغه غورځوئ او که یې بېرته جوړوئ؟ په حقیقت کې کله چې ښځه خپله ځواني له لاسه ورکړي او خوښۍ یې هم ختمې شي، نو خلک له هغې سره باید مرستې وکړي. دغه ناوړه کار چې نن د نړۍ په کچه عام شوی دی او حتا ځینې کمپنۍ د سپینږیرو د ستونزو د حل په پلمه میلیونونه پیسې لاسته راوړي.

په اسلام کې عمرخوړلي کسان نور هم د احترام وړ ګرځي او دوی د ځوانانو په پرتله د ډېرو حقونو مستحق کېږي. له مخکني نسل سره د دوی هڅې چې دوی ته یې پاملرنه کوله او لویول یې، دا یوه ډېره لویه لاسته راوړنه بلل کېږي. الله سبحانه وتعالی د هغه چا په اړه چې سپینږیرو ته درناوی نه کوي او د ټولنې نور جنایتونو ته پام نه کوي، داسې فرمایي:

**﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا﴾**

**[الاسراء:۲۳]**

***ژباړه:*** *له خپل مور او پلار سره نيکي وکړئ. که چېرې يو له هغوی څخه يا دواړه ستاسو په ژوند کې له تاسو سره وي، هغوی ته ناوړه خبرې مه کوئ او خبره يې مه منئ. دوی ته حتا د اف په اندازه بې احترامي هم مه کوئ او په ډېر احترام خبرې ور سره کوئ.*

مورږ باید له پورتني ایت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیثونو څخه پوه شو، چې له شک پرته بوډا او کمزوري خلک باید په اشغال ځایونو کې ونه غورځوو، بلکې عزت او احترام یې وکړو. سربېره پردې که د ژوند سپېڅلتیا ته وکتل شي، نو په قصدي ډول د سپینږیرو وژل او په ټولنه کې د دغه جرم قانوني کول، یو ناانساني عمل دی. ځانځاني او دا چې د هر شي ګټه دې یوازې په یوه کس پورې اړه ولري، د ډیموکراتیکو نظامونو یوه وحشي ځانګړنه ده. پر نړۍ واکمن سیستم یعنې سېکولرېزم کې خلکو ته ګټه له انسانیت څخه هم ډېر ارزښت لري. د خلافت په راتګ سره به سپینږیرو ته له انساني حقونو سره سمه ځانګړې پاملرنه وشي. هغو اولادونو ته به جزا ورکول کېږي، چې د خپل مور او پلار له اطاعت څخه سرغړونه کوي. دغو سپېڅلو ارزښتونو ته نړۍ اوسمهال سخته اړتیا لري، ترڅو ټول خلک په ارام او سالم چاپېریال کې ژوند وکړي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفترته**

**ليکوال: عمران محمد**